علم او فن- علمي څېړنیزه مجله

# په افغانستان کې د کلیوالي پرمختیا له پاره په عصري کرنه کې پانګونه: اهمیت او اقتصادي اغېزې

حسین ګل اریوبی[۱]*، عبدالباقی احمدزی[۱] ، صلاح الدین هدایت[۱]
[۱] د کرنیز اقتصاد او پراختیا څانګه، کرنې پوهنځی، کابل پوهنتون، کابل افغانستان

**لنډیز**

افغانستان کې کلیوالي پرمختیا له هغو مهمو پراختیایي ننګونو څخه ده چې د هېواد د ټولنیز او اقتصادي ثبات سره نېغ تړاو لري. د هېواد ډېره برخه نفوس په کلیوالي سیمو کې ژوند کوي او د ژوند اساسي تکیه یې پر کرنې ولاړه ده. سره له دې چې افغانستان پراخې طبیعي سرچینې، د کرنې وړ ځمکې او نسبي د اوبو ظرفیت لري، خو د کرنیز تولید کچه لا هم ټیټه پاتې ده. د کرنیز تولید د ټیټوالي عمده لاملونه د دودیزو کرنیزو طریقو کارول، عصري ټکنالوژۍ ته محدود لاسرسی، د اوبو ناسم مدیریت، د اصلاح شوو تخمونو کمښت او د کرنې په سکتور کې د پانګونې نشتوالی ګڼل کېږي. دا عوامل په مستقیم ډول د خوړو پر خوندیتوب او د کلیوالي خلکو پر اقتصادي وضعیت منفي اغېزه لري. دا مطالعه د تحلیلي او تشریحي میتود پر بنسټ د ثانوي معلوماتو له لارې ترسره شوې، چې د نړیوالو او ملي معتبره راپورونو څخه اخیستل شوي دي. موندنې ښیي چې په عصري کرنه کې پانګونه—لکه د اصلاح شوو تخمونو کارول، د کرنیز میکانیزم پراختیا، د عصري اوبو لګولو سیستمونه، شنې خونې او د ترویجي خدماتو پیاوړتیا—کولای شي د کرنیز تولید کچه لوړه کړي، د خوړو خوندیتوب ښه کړي، د بزګرانو عاید زیات کړي او د بیکارۍ کچه راټیټه کړي. په پایله کې ویلای شو چې په افغانستان کې د پایدارې کلیوالي پرمختیا لپاره د دودیزې کرنې بدلون په عصري، بازارمحوره او ټکنالوژۍ ولاړ کرنیز سیستم ته یوه حتمي اړتیا ده. له همدې امله، په عصري کرنه کې هدفمندې او اوږدمهاله پانګونې د هېواد د اقتصادي ثبات او کلیوالي پرمختیا لپاره اساسي شرط ګڼل کېږي.

**کلیدی کلیمې**: عنعنوي کرنه، عصري کرنه، پانګونه، کلیوالي سیمو پرمختیا

# Investment in Modern Agriculture for Rural Development in Afghanistan: Importance and Economic Impacts

Hussain Gul Aryobi[1]*, Abdul Baqi Ahmadzai[1], Salahuddin Hidayat[1]
[1]Department Agricultural Economics and Extension, Agriculture Faculty, Kabul University, Kabul Afghanistan
*Corresponding Author Emial: hussaingul_gul@yahoo.com

## Abstract

The main causes of low agricultural productivity include the use of traditional farming methods, limited access to modern technologies, inefficient water management, lack of improved seed varieties, and insufficient investment in the agricultural sector. These factors directly and negatively affect food security and the economic conditions of rural communities. This study is based on a qualitative analytical and descriptive approach using secondary data obtained from credible national and international sources. The findings indicate that investment in modern agriculture—including the use of improved seed varieties, expansion of agricultural mechanization, modern irrigation systems, greenhouse production, and strengthened agricultural extension services—can significantly increase agricultural productivity, improve food security, raise farmers' incomes, and reduce unemployment rates. In conclusion, sustainable rural development in Afghanistan requires the transformation of traditional agriculture into a modern, market-oriented, and technology-driven system. Therefore, targeted and long-term investment in modern agriculture is considered a fundamental requirement for ensuring economic stability and achieving rural development in the country.

**Keywords:** Traditional Agriculture, Modern Agriculture, Investment, Rural Development

**سریزه**

د افغانستان په کلیوالي سیمو کې مېشت خلک له ګڼو اقتصادي، ټولنیزو، اقلیمي او تولیدي ستونزو سره مخ دي چې د هېواد د پراختیا پر بهیر یې مستقیم اغېز کړی دی. د احصائیوي معلوماتو له مخې، د هېواد شاوخوا ۸۰ سلنه نفوس او نږدې ۹۰ سلنه بې وزله وګړي په کلیوالو سیمو کې ژوند کوي او د ژوند اساسي تکیه یې پر کرنې ولاړه ده (World Bank, 2014). دا حالت څرګندوي چې په افغانستان کې فقر او کلیوالي اقتصاد یو له بل سره ژور تړاو لري او د کرنې وضعیت د ټولنې د عمومي اقتصادي ثبات لپاره بنسټیز رول لري.

سره له دې چې افغانستان پراخې طبیعي سرچینې لري، لکه حاصلخېزه ځمکه، د اوبو نسبي شتمني او اقلیمي تنوع، خو د کرنیز تولید کچه لا هم ټیټه پاتې ده. د کرنې سکتور کمزورتیا نه یوازې د خوړو د خوندیتوب ستونزه رامنځته کړې، بلکې د وارداتو زیاتوالی او د سوداګریز کسر پراخېدو ته یې هم لاره هواره کړې ده (Central Statistics Organization Afghanistan, 2024; Jingjing et al., 2025). د کرنیز تولید د ټیټوالي اصلي لاملونه څو اړخیزه دي. تر ټولو مهم یې د دودیزو کرنیزو سیستمونو دوام دی چې لا هم په ډېرو کلیوالو سیمو کې کارول کېږي. سربېره پر دې، عصري ټکنالوژۍ ته محدود لاسرسی، د اصلاح شوو تخمونو کمښت، د کیمیاوي سرو غیر معیاري استعمال، د اوبو ناسم مدیریت، او د پانګونې کمزورتیا د کرنیز سکتور د ودې مخه نیولې ده (FAO, 2023; Kamakaula & Uria, 2024; Patel, 2025). په نړیوالو اقتصادي ادبیاتو کې کرنه یوازې د خوړو د تولید سکتور نه ګڼل کېږي، بلکې د اقتصادي ودې، صنعتي پرمختګ او د فقر د کمولو یو ستر محرک ګڼل کېږي. د کرنې عصري کول د تخنیکي پرمختګ، میکانیزیشن، د اوبو مؤثر مدیریت او د علمي څېړنو د پلي کولو له لارې د تولید کچه څو چنده لوړوي (Asian Development Bank, 2020; World Bank, 2018).

همدارنګه څېړنې ښیي چې هغه هېوادونه چې په کرنه کې یې پانګونه کړې، د فقر کچه یې په پام وړ ډول راکمه شوې ده(IFAD, 2016). په افغانستان کې د اقلیمي بدلون اغېزې هم د کرنې پر سکتور ژورې دي. د وچکالۍ زیاتوالی، د سیلابونو تکرار، د اوبو سرچینو کمزوري مدیریت او د باران غیر منظم ډول د کرنیز تولید ثبات ته جدي ګواښ پېښ کړی دی (IPCC, 2021). دا شرایط د دې اړتیا لا زیاتوي چې کرنه باید له دودیزو طریقو څخه عصري، مقاوم او ټکنالوژۍ-محوره سیستم ته انتقال شي. دودیزه کرنه چې پر بومي تجربو او محلي پوهه ولاړه ده، د طبیعي منابعو سره په نسبي همغږۍ کې فعالیت کوي، خو د تولیدي ظرفیت له پلوه محدوده ده. په مقابل کې عصري کرنه د ساینس، ټکنالوژۍ، جنیټیکي اصلاحاتو او پرمختللو میتودونو پر بنسټ د تولید کچه لوړوي، خو هم مهاله د پایښت او چاپېریالي توازن په اړه نوې بحثونه هم رامنځته کوي (FAO, 2017; Kamakaula & Uria, 2024). افغانستان د ۶۵۲۰۰۰ کیلومتر مربع مساحت، شاوخوا ۷۵ میلیارد متر مکعب اوبو او ۸ میلیونه هکتاره د کرنې وړ ځمکې په لرلو سره د کرنیز تولید لوړ بالقوه ظرفیت لري. له دې اوبو څخه شاوخوا ۵۵ میلیارد متر مکعب رواني او ۲۰ میلیارد متر مکعب د ځمکې لاندې اوبه دي، خو د دې منابعو د مؤثرې کارونې کچه ډېره ټیټه ده ,Arabi). (2021د ځمکې یوازې یوه برخه په مؤثر ډول کرل کېږي، چې دا د کرنیز سیستم د غیر موثریت څرګندونه کوي(FAO, 2022). د خوړو ناامني په افغانستان کې یوه جدي او اوږدمهاله ستونزه ده. د FAOSTAT معلومات ښیي چې نږدې ۲۰ میلیونه وګړي د خوړو له کمښت سره مخ دي (FAOSTAT, 2023).

همدارنګه د Integrated Food Security Phase Classification راپور له مخې، په ۲۰۲۲ کال کې میلیونونه خلک د بحراني او اضطراري خوړو وضعیت سره مخ وو (IPC, 2022). دا وضعیت څرګندوي چې یوازې د طبیعي سرچینو شتون د خوړو خوندیتوب تضمین نه شي کولای، بلکې مؤثره اداره، پانګونه او ټکنالوژي غواړي. له اقتصادي نظره، افغانستان د جدي تجارتي عدم توازن سره مخ دی. په ۲۰۲۳ کال کې د هېواد سوداګریز کسر ۶.۷۹۸ میلیارد ډالرو ته رسېده، چې صادرات یې ۱.۷۷۷ میلیارد او واردات یې ۸.۵۷۶ میلیارد ډالرو ته رسېدل (Jingjing et al., 2025). همدارنګه په ۲۰۲۴ کال کې هېواد نږدې درې میلیونه ټنه غنم، سلګونه زره ټنه وریجې، جوار، بوره او غوړي وارد کړي دي (Central Statistics Organization Afghanistan, 2024) .

دا وضعیت د داخلي تولید کمزورتیا او د کرنې سکتور ضعف څرګندوي. په نړیواله کچه څېړنې ښیي چې په کرنه کې پانګونه د اقتصادي ودې، د فقر کمولو او د کلیوالي پرمختیا لپاره یو اساسي عامل دی (World Bank, 2018; IFAD, 2016). همدارنګه د کرنیزو ارزښت ځنځیرونو پراختیا کولای شي د صنعتي سکتور لپاره خام مواد برابر کړي او د کارموندنې فرصتونه زیات کړي (UNDP, 2020). په همدې

اساس، د افغانستان لپاره په عصري کرنه کې پانګونه یوازې یو انتخاب نه، بلکې یوه ستراتیژیکه اړتیا ده. له همدې امله، دا څېړنه هڅه کوي چې په افغانستان کې د کلیوالي پرمختیا لپاره په عصري کرنه کې د پانګونې اهمیت او اقتصادي اغېزې په علمي ډول وڅېړي، موجوده ستونزې تحلیل کړي او د پایدارې پرمختیا لپاره عملي او پالیسي- محوره وړاندیزونه وړاندې کړي.

## د څېړنې میتود

په دې مقاله کې د تیرو آثارو د مطالعې او د ثانوي (دوهم لاس) ارقامو څخه ګټه پورته شوې. په نوموړې مقاله کې په کلیوالي سیمو کې د عصري کرنې په برخه کې د پانګونې په اړتیا باندې تمرکز شوی دی. اړین مالومات د معتبرو سرچینو لکه تخصصي کتابونه، علمي مقالې، د نړیوالو سازمانونو لکه نړیوال بانک، د خوړو او کرنې نړیوال سازمان راپورونه، همدا رنګه د معتبرو انلاین سرچینو او ویبساټونو څخه هم استفاده شوې ده. د پایلې په توګه دودیزه او عصري کرنه تر بحث لاندې نیول شوي او ارزونه یې شوې ده او د عصري کرنې په برخه کې په پانګونه باندې ټینګار شوی دی. ستونزې په ګوته شوي او د حل لارې سنجول شوي دي. دا مقاله به د کرنې د سکتور مامورینو، استادانو او محصلینو سره د نورو څېړنو په برخه کې ګټوره تمامه شي.

## موندنې او بحث

### دودیزه کرنه

افغانستان له اوږدې مودې راهیسې د خوراکي توکو له بحران سره مخ دی. په ځانګړي ډول له ۲۰۲۱ زیږدیز کال څخه وروسته د شدید مالي بحران له امله هېواد له اقتصادي ستونزو څخه د وتلو لارې لټوي. بې‌صنعتي، لوږه، فقر، بې‌سوادي، غیر میکانیزه کرنه، په بهرنیو مرستو تکیه او وچکالي د هغو اساسي عواملو له ډلې څخه دي چې هېواد یې د خوراکي توکو له کمښت سره مخ کړی دی. په ۲۰۲۱ م کال کې د حکومت په جوړښت کې د پراخ بدلون وروسته، د مرستندویه ادارو د مرستو بندېدل، پرله‌پسې وچکالي، د کرنې د عصري وسایلو نشتوالی، د عصري اوبو لګولو سیستم نشتوالی، د کرنیزو اوبو کمښت، په کرنیز سکتور کې د پانګونې کمښت، د ځنځیري ارزښت کمزورتیا، د کروندګرو د ملاتړ نشتوالی او د ترویجي خدماتو کمزورتیا هغه مهم عوامل دي چې هېواد یې د خوراکي توکو له کمښت سره مخ کړی دی (Nandy, 2025a) سربېره پر دې، د مناسبو مواصلاتي لارو نشتوالی او د بازارونو نشتوالی د دې لامل شوی چې کروندګر خپل محصولات په مناسب وخت کې، په ځانګړي ډول تازه محصولات، بازارونو ته ونه رسوي. دغو ننګونو کروندګر دې ته اړ کړي چې له عصري کرنیزو عملیاتو څخه واوړي او وروسته پاتې او دودیزو کرنیزو طریقو ته مخه کړي. افغانستان د خوراکي توکو د کمښت له امله اړ دی چې خپلې اړتیاوې له ګاونډیو هېوادونو څخه پوره کړي، خو په مقابل کې له یوې خوا سرمایه له هېواد څخه بهر وځي او له بلې خوا د خوراکي توکو بیې هم لوړېږي. د افغانستان د مرکزي احصائیې د راپور له مخې، د اجناسو او خدمتونو واردات په ۱۴۰۲ لمریز کال کې ۹۸۰۸.۵ میلیون ډالرو ته رسېدلي، چې د ۱۴۰۱ لمریز کال په پرتله ۱۹.۶ سلنه زیاتوالی ښیي (CSO, 2024; Nandy, 2025b).

### عصري کرنه

عصري کرنه د هغه کرنیز سیستم څخه عبارت ده چې په کې له نوې ټکنالوژۍ، علمي میتودونو او پرمختللو وسایلو څخه ګټه اخیستل کېږي، لکه اصلاح شوي تخمونه، عصري اوبه لګولو سیستمونه، شنې خونې، سړې خونې او نور پرمختللي وسایل. په عصري کرنه کې پانګونه کولای شي د کلیوالو خلکو ژوند بدل کړي او په کلیوالي سیمو کې د پرمختیا زمینه برابره کړي. یا په بل عبارت، په عصري کرنه کې پانګونه د کلیوالي سیمو د پرمختګ لپاره یو مهم عنصر ګڼل کېږي. په کرنیز سکتور کې د پانګونې مانا دا ده چې کوچني کروندګر وکولای شي خپلې اړتیاوې تر ډېره د خپلو تولیداتو له لارې پوره کړي. څېړنې ښیي چې عصري کرنې په نورو هېوادونو کې ښه پایلې ورکړې دي او د بې‌وزلۍ په کمولو کې یې اغېزمن رول لوبولی دی، په ځانګړي ډول د ځینو اسیایي او لاتیني امریکا هېوادونو په اقتصاد کې یې مثبت اغېز درلود (Barnaba, 2015). نړیوال سوداګریز سازمان د زرغون انقلاب لپاره لوړ حاصل ورکوونکي اصلاح شوي تخمونه، عصري تولیدي

عوامل او پرمختللې اوبه لګولو سیستم خورا مهم بولي (Asian Development Bank, 2020). نږدې ټول کلیوال خلک په مستقیم او غیر مستقیم ډول د کرنې په سکتور کې بوخت دي. د (۱) جدول مطابق، کرنه د افغانستان په اقتصاد کې ۳۴.۷۴ سلنه ونډه لري (The Global Economy, 2024; Central Statistics Organization Afghanistan, 2024). نو ویلای شو چې کرنه د اقتصادي ودې او پرمختګ لپاره د پام وړ اهمیت لري.

جدول ۱: د کال او سکتور په توپیر په کورني ناخالص تولید کې د ځینو سکتورونو ونډه (سلنه)

| ګڼه | سکتور | کالـــــــــــونه | | |
|---|---|---|---|---|
| | | ۱۴۰۰ | ۱۴۰۱ | ۱۴۰۲ |
| ۱ | کرنه | ۳۳.۶ | ۳۳.۷ | ۳۴.۷ |
| ۲ | صنعت | ۱۴.۳ | ۱۶.۰۵ | ۱۳.۴۴ |
| ۳ | کانونه | ۲.۱۲ | ۲.۸ | ۲.۴ |
| ۴ | صنعتي فابریکې | ۸.۵ | ۱۰.۱۹ | ۷.۵۴ |
| ۵ | خدمتونه | ۴۷.۱۶ | ۴۵.۰۵ | ۴۶.۳۷ |

منبع: احصائیوي کالنی ۱۴۰۲ لمریز کال

## په کلیوالي سیمو کې د عصري کرنې په برخه کې د پانګونې اړتیا

د وګړو اندازه او جوړښت د هر هېواد د پرمختیایي پلان جوړونې لپاره بنسټیز عناصر ګڼل کېږي او باید د ملي او سکتوري پراختیایي پروګرامونو په طرحه کې په جدي ډول په پام کې ونیول شي. د افغانستان د نفوس شمېر په ۱۴۰۲ لمریز کال کې نږدې ۳۵ میلیونه تنه اټکل شوی، او د ۱۳۵۸ کال د سرشمېرنې پر بنسټ د هېواد کلنۍ د وګړو وده شاوخوا ۲.۱۴ سلنه ده. دا وده په ځانګړي ډول په ښاري سیمو کې لوړه ده، چې عمده علت یې له کلیو څخه ښارونو ته کډوالي بلل کېږي. د وګړو د زیاتوالي له امله د خوړو او نورو اساسي اړتیاوو تقاضا په دوامداره ډول لوړېږي. په داسې شرایطو کې دودیزه کرنه نشي کولای د نفوس د اړتیاوو د پوره کولو لپاره کافي تولید برابر کړي، په داسې حال کې چې عصري کرنه کولای شي د تولید د زیاتوالي له لارې دغه تشه تر ډېره بریده ډکه کړي.

په افغانستان کې د کرنیز تولید ټیټه کچه د ګڼو تخنیکي، اقتصادي، اقلیمي او ساختماني ستونزو پایله ده. له دې جملې څخه یو مهم عامل د اصلاح شوو تخمونو نشتوالی دی، ځکه ډېری کروندګر لا هم له محلي او غیر اصلاح شوو تخمونو څخه استفاده کوي چې نه یوازې د ناروغیو پر وړاندې کمزوری مقاومت لري، بلکې د اقلیمي بدلونونو سره هم ښه تطابق نه شي کولای. دا وضعیت په مستقیم ډول د فی واحد ځمکې حاصل کموي. بل مهم عامل د معیاري سرو محدود لاسرسی او ناسم استعمال دی. د خاورې د حاصلخېزۍ د منظمې ازموینې نشتوالی، د کیمیاوي او عضوي سرو د متوازن استعمال نه رعایت، او د سرو لوړ قیمتونه د دې لامل شوي چې بزګران یا خو کمه سره وکاروي یا یې په ناسم ډول استعمال کړي، چې پایله یې د نبات کمزوری رشد او ټیټ تولید وي.

سربېره پر دې، د کرنیزو میکانیزه وسایلو نشتوالی د تولید په کچه جدي اغېز لري. د دودیزو وسایلو استعمال نه یوازې د کرنیزو عملیاتو وخت زیاتوي، بلکې د کر، خړوبولو او حاصلاتو د راټولولو موثریت هم کموي. دا ستونزه په ځانګړي ډول د کارګرانو د کمښت او د لګښتونو د زیاتوالي په شرایطو کې لا پسې جدي کېږي. همدارنګه، د عصري کرنیزو تخنیکونو او علمي لارښوونو نشتوالی د ټیټ تولید یو بل مهم لامل دی. په دغو برخو کې پانګونه کولای شي د تولید کچه په څرګند ډول لوړه کړي او د کرنیز سکتور موثریت زیات کړي.

اقلیمي بدلون هم د کرنې پر تولید منفي اغېز لري، ځکه چې وچکالي او سیلابونه دواړه زیات شوي دي. له همدې امله د اوبو د ضایعاتو مخنیوي لپاره د عصري اوبو لګولو سیستمونو ته جدي اړتیا لیدل کېږي. په کلیوالي سیمو کې بېکاري د فقر یو اساسي لامل بلل کېږي. عصري کرنه د کرنیزو فعالیتونو د پراختیا له لارې د کار او بوختیا نوي فرصتونه رامنځته کوي، چې په پایله کې د فقر په کمولو کې مرسته کوي. همدارنګه، له کلیو څخه ښارونو ته د کډوالۍ یو مهم علت د کاري فرصتونو کمښت دی. که په کلیوالي سیمو کې کافي کاري فرصتونه رامنځته شي، عصري ټکنالوژي وکارول شي، کروندګر د ارزښت د زیاتوالي په پروسو کې شامل شي، او د کلیوالي صنعتونو او خدماتو پراختیا ته زمینه برابره شي، نو خلک به د خپلو سیمو پرېښودو ته لږ تمایل ولري. په دې توګه به ښارونو ته د کډوالۍ فشار هم راکم شي او

متوازن سیمه‌ییز پرمختګ به رامنځته شي. په ټولیز ډول، پورته عوامل ښیي چې د افغانستان د کرنیز سکتور ستونزې یوازې تخنیکي نه، بلکې اقتصادي، ټولنیزې او مدیریتي بڼې هم لري، چې حل یې د عصري کرنې پراختیا او هدفمندو پانګونو ته اړتیا لري.

## په کلیوالي سیمو کې په عصري کرنه کې د پانګونې اهمیت

په کلیوالي سیمو کې په عصري کرنه کې پانګونه د اقتصادي، ټولنیز او ساختماني پرمختګ له مهمو محرکاتو څخه ګڼل کېږي. دا ډول پانګونه د کرنیزو تولیداتو د کمیت او کیفیت په لوړولو سره د کروندګرو د عاید د زیاتوالي زمینه برابروي، ځکه چې د لوړ کیفیت او زیات حاصل لرونکي تولیدات کروندګرو ته د بازار په شرایطو کې د لا زیاتو ګټو ترلاسه کولو امکان برابروي. سربېره پر دې، عصري کرنه د خوړو د خوندیتوب او خوړو د امنیت په پیاوړتیا کې اساسي رول لري. کرنه د خلکو د ژوند بنسټ جوړوي او په ډېرو هېوادونو کې د اقتصادي فعالیتونو، کارموندنې او ټولنیز پرمختګ مهمه سرچینه ګڼل کېږي. عصري کرنه د کورني تولید د زیاتوالي له لارې د خوراکي توکو وارداتو ته اړتیا راکموي او همدارنګه له هېواد څخه د سرمایې د وتلو مخه نیسي. همدارنګه، په کرنه کې پانګونه د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا لپاره یو مهم عامل دی، ځکه چې دا پانګونه د بازارونو پراختیا، د زېرمو مدیریت، د پروسس صنعت، د ارزښت د ځنځیر پراختیا او د ټرانسپورټي شبکو ښه والي ته زمینه برابروي. دا بهیر د کلیوالي خلکو اقتصادي فعالیتونه متحرک کوي، عاید لوړوي، فقر کموي او د پایښت لرونکي پرمختګ لپاره قوي بنسټ جوړوي. که چیرې دا پانګونه د علمي اصولو او منظم پلان له مخې ترسره شي، نو کرنه کولای شي د ملي اقتصادي ودې یو مهم محرک ځواک وګرځي. له بلې خوا، په کرنه کې عصري پانګونه د صنعتي ودې لپاره هم بنسټیز اهمیت لري، ځکه چې کرنه او صنعت یو له بل سره بشپړونکې اړیکې لري. کرنه د خوړو پروسس، بسته بندی او صادراتو لپاره خام مواد برابروي، چې دا بیا د صنعتي سکتور د پراختیا بنسټ جوړوي. له همدې امله په ډېرو پرمختیایي هېوادونو کې کرنه د صنعتي کېدو لومړنی او اساسي پړاو ګڼل کېږي. په پایله کې ویلای شو چې په کلیوالي سیمو کې د عصري کرنې پراختیا نه یوازې اقتصادي ګټې لري، بلکې ټولنیز ثبات هم رامنځته کوي، ځکه چې د عاید او کاري فرصتونو د زیاتوالي له امله د کلیو څخه ښارونو ته د کډوالی کچه راکمېږي او په ټوله کې متوازن پرمختګ رامنځته کېږي.

## پایلې

د دې مطالعې د موندنو څخه څرګندیږي چې افغانستان، سره له دې چې پراخې طبیعي سرچینې، د اوبو مناسب ظرفیت او د کښت وړ پراخه ځمکې لري، خو لا هم د ټیټ کرنیز مؤلدیت، بې وزلی او خوراکي توکو د کمښت (خوړیزه ناامني) د جدي ستونزو سره مخ دی. د نفوس ډیره برخه په کلیوالي سیمو کې ژوند کوي او د ژوند اساسي تکیه یې په کرنه ده. دودیز کرنیز سیستمونه، د تکنالوژی نشتوالی، د اوبو کمزوری مدیریت، د اصلاح شوو تخمونو کمښت او د پانګونې لپاره د مناسب چاپیریال نشتون ددې لامل شوي چې کرنه د اقتصادي ودې خپل بالقوه رول په بشپړه توګه ادا نه کړي. په عصري کرنه کې هدفمند او علمي پانګونه کولای شي چې د تولید کچه لوړه کړي، د خوړو کورنی تولید زیات کړي، وارداتو ته اړتیا راکمه او سوداګریز کسر په کمولو کې مرسته وکړي. همدارنګه، عصري کرنه د بزګرانو د عاید لوړولو، د بیکاری د کچې کمولو، د ارزښت ځنځیر د پراختیا، د کلیوالي بازارونو د فعالولو او د صنعتي ودې د بنسټ ایښودلو لپاره بنسټیز اهمیت لري. د اقلیمي بدلونونو، د وګړو د چټک زیاتوالي او د خوراکي توکو لپاره مخ پر زیاتیدونکې تقاضا په شرایطو کې؛ دودیزه کرنه د هېواد اړتیاوې نه شي پوره کولای. په ټوله کې ویلای شو چې د افغانستان د پایدار اقتصادي ودې، خوړییز خوندیتوب او ټولنیز ثبات لپاره په کلیوالي سیمو کې په عصري کرنه کې پانګونه یو انتخاب نه، بلکې یوه حتمي اړتیا ده. که چیرې دغه پانګونه د منظمې پالیسی، مؤثر مدیریت او اوږدمهاله ستراتیژی له مخې ترسره شي، نو کرنه کولای شي د ملي اقتصاد د محرک ځواک په توګه عمل وکړي او د هېواد لپاره یو باثباته او هوسا راتلونکې تضمین کړي .له همدې امله د اصلاح شوو ورایټیو استعمال، میکانیزه وسایل، عصري اوبه خور سیستمونه، شنې خونې، سړې خونې او د کرنیزو ترویجي خدمتونو پیاوړتیا او کرنیز نوښتونه باید د ملي پرمختیایي پالیسی په چوکاټ کې لومړیتوب وګرځي.

**وړاندیزونه**

د پورته ذکر شوو ستونزو د مخنیوي په موخه؛ په کلیوالي سیمو کې د پانګونې د اړتیا په هکله د هراړخیز بحث وروسته خپل وړاندیزونه په لاندې ډول وړاندې کوو.

۱. **عصري کرنیزې ټکنالوژۍ پراخول**

- په کلیوالي سیمو کې د اصلاح شوو تخمونو، میکانیزه وسایلو، عصري اوبه خور سیستم، د سرو او شنو خونو معرفي کول.
- د هر ولایت لپاره باید د اړتیا وړ ټکنالوژۍ ارزونه وشي او لومړیتوبونه یې مشخص شي.

۲. **مالي ملاتړ اوپورونه**

- کروندګرو ته د مرابحې او سبسایډۍ اسانتیاوو برابرول.
- کوچنیو کروندګرو ته دې د ګډې پانګې سیستم جوړ شي.

۳. **ترویجي او روزنیز پروګرامونه**

- تخنیکي زده کړو لپاره دې کروندګروته روزنیز پروګرامونه جوړ شي.
- د اقلیمي بدلونونو او اوبو مدیریت په اړه دې عملي روزنیز پروګرامونه جوړ شي.

۴. **د اوبو مدیریت او زیرمو پراختیا**

- د عصري اوبه خور سیستمونو نصب او موجوده چینلونه دې اصلاح شي.
- د باراني اوبو د ذخیره کولو سیستمونو جوړول او د ځمکې د اوبو مؤثر مدیریت باید پیاوړی شي.

۵. **د ارزښت ځنځیر پراختیا**

- د محصولاتو د پروسس، بسته بندی، زیرمه کولو او بازار موندنې بنسټونه دې جوړ شي.
- د تولید د ارزښت د لوړیدا لپاره مارکیټ ته د لاسرسي زمینه دې برابره شي.

۶. **د کاري فرصتونو رامنځته کول**

- د کرنې د پراختیا له لارې دې د کلیوالي سیمو لپاره کاري فرصتونه رامنځته شي.
- د کروندګرو د عاید لوړولو او د ښاري مهاجرت مخنیوي لپاره دې سیمه ایز صنعت ته وده ورکړل شي.

۷. **پالیسي جوړول**

- د کرنې سکتور لپاره دې همغږې پالیسی او د پرمختګ شاخصونه وټاکل شي.
- عصري کرنې لپاره دې اوږدمهاله او لنډ مهاله پلانونه جوړ شي.

**اخځلیکونه**


اریوبي حسین ګل (1400) د اوبو کمښت او خوراکي توکو تولید په وړاندې راتلونکې. ننګونې *شیخ زاید پوهنتون پوهنیزه مجله*. ص. ۱۰۴.

Asian Development Bank. (2020). Aid for trade workshop: Transformation and promoting rural economy. Asian Development Bank.

Barnaba, B. J. E. (2015). Moving beyond subsistence farming and investing in modern agriculture to enhance rural development in South Sudan (p. 4).

Food and Agriculture Organization (FAO). (2022). The state of food security and nutrition in the world. FAO. https://www.fao.org/publications/sofi

Integrated Food Security Phase Classification. (2022). Afghanistan IPC acute food insecurity analysis (p. 1). http://www.ipcinfo.org

World Bank. (2014). Revitalizing agriculture for economic growth, job creation and food security (P. 5).

Jingjing, Y., Mowahed, S. M., & Sharif Zada, M. W. (2025). Impact of imports and exports on inflation rate in Afghanistan: Does political instability matter. BRICS Journal of Economics, (P. 120).

Kamakaula, Y., & Uria, D. (2024). Comparative study: Traditional agriculture vs. modern agriculture in the context of sustainable development. Contemporary Journal of Applied Sciences, (P.451).

Nandy, D. (2025a). Growth, poverty and developmental aspects of agriculture (Pp. 211–224).

Nandy, D. (2025b). Food security in Pakistan and Afghanistan: Investigating the lacunae of domestic policy and foreign policy (P.1).

Patel, M. A. (2025). A comparative overview on traditional and modern farming. Agri Articles, (P. 1148).

The Global Economy. (2024). Afghanistan economic data (p. 195).

Food and Agriculture Organization. (2017). The future of food and agriculture – Trends and challenges. https://www.fao.org/3/i6583e/i6583e.pdf

Food and Agriculture Organization (2022). Afghanistan agriculture and food security country brief. https://www.fao.org/afghanistan

International Fund for Agricultural Development (IFAD). (2016). Rural development report: Fostering inclusive rural transformation. https://www.ifad.org/en/web/knowledge/-/publication/rural-development-report-2016

Intergovernmental Panel on Climate Change (IPCC). (2021). Climate change 2021: Impacts, adaptation and vulnerability (AR6 WGII). https://www.ipcc.ch/report/ar6/wg2

United Nations Development Programme (UNDP). (2020). Human development report: Agriculture and rural transformation. https://hdr.undp.org

Food and Agriculture Organization of the United Nations. (2023). FAOSTAT statistical database. https://www.fao.org/faostat/en/

Central Statistics Organization Afghanistan (2024). Statistical yearbook of Afghanistan. https://www.nsia.gov.af